څېړنوال سید نظیم سیدي

# د سعدالدين شپون په کیسه ییز ادب کې حدیث نفس

# Soliloquy in the Narrative Literature of Saadudeen Shpoon

**Associate Prof. Sayed Nazim Sayedy**


## Abstract

In this article I introduce Soliloquy, which is the first structural element of narrative literature. What is Soliloquy? it Is the structural part in which the character of the story talks to himself, but does not know the audience of its. Such conversations often express the character's intellectual and internal issues. According to the Soliloquy, we know the character's mental and emotional structure, how gentle, emotional and sentimental a human being is, how good it is and how harmful it is.

I also have the brief talks about of Shpoon's narrative literature, and show some examples of the Soliloquy in his stories. It is clear that literature changes with the demands of time and circumstances, but Shpoon applies new features of fiction to his story, so researching and exploring them all the time is not without its benefits and innovations.



### لنډيز

په دې څېړنه کې لومړی د داستاني ادب یو جوړښتی عنصر چې هغه حدیث نفس یا له ځان سره خبرې کول دي معرفي شوی، دا چې حدیث نفس څه شی دی؟ ادبڅېړونکي یې په اړه وایي: د نفس حدیث یا له ځان سره خبرې د داستاني ادب هغه جوړښتي برخه ده چې په هغې کې د کیسې کرکټر له ځان سره په داسې بڼه خبرې کوي چې مخاطب یې معلوم نه وي. دغه ډول خبرې ډېر ځله د کرکټر فکري او داخلي مسایل بیانوي. د حدیث نفس له مخې موږ ته د کرکټر د فکر او ذهني بڼې جوړښت معلومېږي چې څومره نرم، ملایم، عاطفي او احساساتي انسان دی، ښېګڼې یې څومره دي او مضریت یې څومره.

تر دې بحث وروسته د استاد شپون پر کیسه ییز ادب لنډه تبصره شوې او بیا په کې د حدیث نفس بېلګې وړاندې شوې دي. دا څرګنده خبره ده چې د وخت او حالاتو له غوښتنې سره سم په ادب کې هم بدلون راځي، خو استاد شپون یو داسې کیسه لیکوال دی چې تر ډېره یې په کیسو کې د داستاني ادب نوې ځانګړنې تطبیقېږي چې دا کمال د ډېرو لږو کیسه لیکوالو په داستانونو کې شته، نو ځکه یې هر وخت څېړل او سپړل له ګټې او نوو خبرو څخه خالي نه دي.

## سریزه

ادبپوهان وایي ژوند کیسه ده او کیسه ژوند دی، انسان له پیدایښته تر دې دمه له کیسو سره اغږل شوی موجود دی، هره ورځ، هره شېبه او د ژوند هر پړاو یې له کیسو ډک دی، چې په دې کې یې ډېرې خوږې او ډېرې یې ترخې دي، دومره ترخې چې ان انسان یې تر مرګه نه شي هېرولای، خو ځینې یې بیا دومره جالبې او زړه راښکونکې دي چې انسان یې د تداوم او تلپاتې کېدو غوښتونکی وي.

په دغه لیکنه کې موږ د انسان پر هر ډول کیسو او ورځنیو کیسو باندې نه چورلو او نه هم هغه کیسې را اخلو چې له وخت ضایع کېدلو پرته بله معنا نه ښندي، ځکه اوسنی پېر د وزګارخېلو زمانه نه ده، هر انسان د ژوند لپاره لنډ مهالي او اوږدمهالي پلانونه لري او د دغو پلانونو د پلي کېدلو لپاره بویه چې پر عمل لاس پورې کړي، نه پر عبثیاتو، خو ادبپوهان وایي چې د ستړیا د لرې کېدلو او د ژوند د ځینو حقایقو د راسپړلو لپاره تر ټولو ښه وسیله تفریحي ادب دی چې یو ډول یې کیسه یا په ټوله کې کیسه ییز ادب دی.

په دغه مقاله کې موږ د کیسه ییز ادب پر ارزښت او اهمیت خبرې نه کوو او نه هم د کیسې پر ډولونو خبرې کوو. دا مقاله د کیسه ییز ادب د یو داسې توک په اړه څېړنه کوي چې تر اوسه پورې یې موږ د لوستلو او ترې خوند اخیستلو شاهدان وو، خو له دې اړخه او په دې نامه نه. دا مقاله د استاد شپون په کیسه ییز ادب (ناول او لنډې کیسې) کې د حدیث نفس یا له ځان سره خبرې کولو پر عنصر غږېږي چې څو ډولونه لري او ارزښت یې څه دی او که په یوې کیسې کې حدیث نفس نه وي، نو کیسې ته څه ستونزې پېښوي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې موږ د لومړي ځل لپاره د پښتو داستاني ادب یو داسې عنصر ته متوجه کوي چې تر دې وړاندې په دې نامه نه څېړل کېده او یا دغه توک ته ډېر ارزښت نه ورکول کېده، په داسې حال کې چې دا برخه ډېره مهمه او د داستان له روان سره اړیکه لري. کله چې د داستان د روان خبره کوو، نو ورسره ورسره د روانپوهنې بحث هم رامنځته کېږي او روانپوهنه د ټولنې له کلتوري او مذهبي ارزښتونه پرته ناشونې خبره ده.

دا څېړنه که له یوې خوا موږ ته دغه نوی توک یا عنصر را پېژني، نو ترڅنګ یې موږ د استاد شپون د داستانونو هغو ځانګړنو ته متوجه کوي چې لسګونه کاله وروسته یې هم په کیسو کې د تطبیق وړ دي او دا خبره د دې سپیناوی کوي چې استاد شپون تلپاتې ادب پنځولی چې په هر پېر کې نوې خبرې او کیسې لري.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې هدف دا دی چې په پښتو کیسه ییز ادب کې لومړی د کیسه ییز ادب دغه نوی توک معرفي شي او بیا یې ارزښت جوت شي چې په ټولنه کې څومره ځای لري. د هغې ترڅنګ دا او دې ته ورته توکې د دې زباتونه کوي چې استاد شپون د هر دور او پېر له غوښتنو سره سم لیکل کړي، معنا دا چې ټولنه یې سمه پېژندلې، کلتوري ارزښتونه یې درک کړي او د خپلو خلکو غوښتنو ورته د هغوی په ژبه لومړیتوب لرلی دی چې پرته له شکه په هر پېر کې د ده پنځونه خپل ځای او مقام لري، نو دا څېړنه دا او دې ته ورته مسایل را سپړي او همدې موخې ته رسېدل غواړي.

## د څېړنې پوښتنې

✍ حدیث نفس څه شی دی؟

✍ حدیث نفس د لومړي ځل لپاره، کله، چېرته او څنګه رامنځته شو؟

✍ په کیسه ییز ادب کې د حدیث نفس ارزښت څه دی؟

✍ ایا د استاد شپون په کیسو کې حدیث نفس شته؟

✍ د استاد شپون په کیسه ییز ادب کې کوم ډول حدیث نفس دی؟

او دې ته ورته ځینو نورو پوښتنو ته هم ځواب وایي.

### د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې تر ډېره له کمپوزیت یا تشریحي او توضیحي میتود څخه ګټنه شوې ده.

## د استاد شپون په کیسو کې حدیث نفس

وړاندې تر دې چې د استاد شپون پر کیسه ییز ادب وغږېږم اړینه بولم چې د پښتو داستاني ادب پر دغې ځانګړنې چې تر ډېره یې له نومونې سره نوي مخامخېږو، په داسې حال کې چې له ډېر پخوا راهیسې موجوده ده رڼا واچوم، ځکه موږ په پښتو کیسه ییز ادب کې د څو ګوتو په شمار جوړښتي ځانګړنو سره بلد یو، چې طرحه، پلاټ یا اډانه، تلوسه، منظرکښنه، د اوج څوکه یا ټکی، غوټه، د غوټې پرانیستل، صحنه، ژبه، طنز، پیغام او داسې نور دي، په داسې حال کې چې په نړیواله کچه اوس دغه ځانګړنې د بدلون په حال کې دي او ډېرې داسې نورې ځانګړنې هم په ګوته کوي چې زموږ په کیسه ییز ادب کې هم شته، خو یا مو ورته پام نه دی شوی او یا مو ورته ارزښت نه دی ورکړی، په داسې حال کې چې هره ځانګړنه د ځانګړي جوړښت او پاملرنې وړ ده، چې د هغې له ډلې یوه هم د حدیث نفس یا له ځان سره خبرې کول، جوړښتي توک دی.

د ادبڅېړونکو په اند له ځان سره خبرې یا د نفس حدیث د داستاني ادب هغه جوړښتي برخه ده چې په هغې کې د کیسې کرکټر له ځان سره په داسې بڼه خبرې کوي چې مخاطب یې معلوم نه وي. دغه ډول خبرې ډېر ځله د کرکټر فکري او داخلي مسایل بیانوي. (۱)

معولاً موږ ډېرې داسې مکالمې لرو چې په هغې کې کرکټر یا پرسوناژ له ځان سره خبرې کوي، خو دغه خبرې ډېر ځله یا ګونګې او مبهمې وي او یا هم د بونګ بونګ په بڼه وي، خو له حدیث نفس څخه موخه دغه ډول خبرې نه دي، بلکې هغه ساده، په لوړ اواز او پوهېدونکې خبرې دي چې کرکټر یې یا د غوصې او احساساتو په حالت کې کوي او یا هم په عادي حالت کې د یوې موضوع په اړه چې زړه بداوی او زړه تشوالی په کې وي.

په پورته پېژند کې لولو چې د نفس حدیث داسې خبرې دي چې مخاطب یې معلوم نه وي او د کرکټر فکري او داخلي مسایل بیانوي، خو ځینې نور ادبپوهان بیا په دې اند دي چې د نفس حدیث هغه صنعت دی چې په وسیله یې لیکوال د خپل پام وړ شخصیت فکر او احساسات په ښکاره بیانوي، داسې چې مخاطب به نه لري او له ځان سره به خبرې کوي چې په عادي حالاتو کې ډېر ځله موږ دغسې خلکو ته د لېونیو خطاب کوو، خو په داستاني ادب، همدغو خبرو ته حدیث نفس وایي او دا ځکه کرکټر یا نه غواړي او یا هم د ځینو نزاکتونو له امله د خپل زړه حال چا ته نه وایي، نو ځکه له ځان سره خبرې کوي او بونګېږي.

ښايي پوښتنه پيدا شي، د هغو خبرو چې مخاطب يې معلوم نه وي يا هغه ويونکی چې مخاطب ونه لري، د هغه د خبرو معنا به څه وي او يا ايا خبرې به يې له اوتو بوتو پرته بله معنا هم ولري چې انسان يې ونغوړي او خوند ترې واخلي؟

دقيقاً دا هغه پوښتنه ده چې بايد ځواب شي، موږ چې کله د نفس حديث يا له ځان سره د خبرو، خبره کوو نو موخه مو هسې اوتې بوتې او بابولالې نه دي، بلکې په کيسه ييز ادب کې ډېر ځله داسې پېښېږي چې کرکټر يا اتل له يوې داسې ستونزې سره مخامخېږي چې له ځان سره له خبرو کولو پرته بله چاره ورته نه وي پاتې او يا هم ډېر ځله له ځان سره د يوې مهمې او جدي موضوع په اړه داسې خبرې کوي چې لوستونکی ترې ډېر څه اخيستلای شي، د ساري په ډول غواړي پر يو ځای عمليات وکړي، غواړي چې يو چا ته د خپلې مينې اظهار وکړي، غواړي چې د کاري مرکې په اړه له ځان سره فکر او طرحه جوړه کړي او غواړي چې د يوې پوليسې او يا جنايي پېښې د اټکلونو په اړه ټول اړخونه وسنجوي، نو په دغه ډول حالاتو کې له ځان سره خبرې کول يې پرته له شکه لوستونکي او مخاطب ته ډېر څه ورکولای شي او داسې مسايلو ته يې ځير کولای شي چې په عادي حالت کې هم له ګټې خالي نه وي.

که د نفس حديث له پېژندنې را تېر شو، نو ادبپوهانو له ځان سره خبرې کولو داستاني عنصر ته ځانګړنې هم ټاکلې دي چې ورته به ځير شو:

✍ د نفس حديث تر ټولو مهمه ځانګړنه له ځان سره په داسې بڼه خبرې کول دي چې بل څوک يې نه اوري او کابو عادي خبرو ته ورته وي، خو لوی مفهوم به په کې پروت وي، په دې معنا ښايي بل څوک يې ترڅنګ هم ناست وي، خو دی به په خپل غم کې ورک وي، سره له دې چې په فزيکي لحاظ به دلته وي، خو روحاً به د خپلې موضوع په اړه له ځان سره خبرې او فکر کوي، نو د ادبپوهانو په اند دغه ډول خبرو ته بايد په درنښت وکتل شي او پر ويونکي يې د لېونې ګومان ونه شي، ځکه د ده شخصيت خلکو ته معلوم دی او دغه ډول کړنه يې د موجوده حالاتو له امله رامنځته شوې، يعنې پخوانی عادت يې نه دی. (۲)

کله چې پر داستاني ادب خبره کوو، ښکاره ده چې له بېلابېلو کرکټرونو او خويونو سره مخامخېږو، په دغو کسانو کې ځينې دومره سنجيده او با درکه وي چې موږ يې د کړنې او کرکټر له مخې اټکل کولای شو چې دی به څه ډول کارونه کوي، څنګه به يې کوي او څنګه به پرمخ ځي، خو ترڅنګ يې کله ناکله له ځينو داسې کرکټرونو سره هم مخامخېږو چې په ټوله معنا پر عقل حاکم خلک وي، خو حالاتو دومره ځپلي او له حاله بې حاله کړې وي چې د هر ډول کړنې تمه او اټکل ترې کېدلای شي. دقيقاً دغه ډول کرکټرونه په کيسه ييزو ژانرونو کې هم داسې غيرمترقبه کړنې ترسره کولای شي چې موږ يې هېڅ اټکل هم نه شو کولای، په داسې حال کې چې د شخصيت له مخې يې د دغه ډول کړنو ترسره کول ناشونې خبره وي، خو حالاتو او د زمانې جبر دغه ډول نامترقبه پېښو ته اړ کړی وي.

اوس پوښتنه دا ده چې دغه کړنې او دا عنصر د کيسه ييز ادب په کوم ژانر کې ډېر ښه تمثيل کېدلای شي؟

ځينې ادبپوهان په دې نظر دي چې د کيسه ييز ادب په ژانرونو کې دغه عنصر د ډرامې په ژانر کې ډېر تر سترګو کېږي او هغه هم پخوا ډېر دود و، ځکه پخوانيو خلکو او د ادب مينه والو هغه صنفونه ډېر خوښول چې يو انسان به په کې د مجبوريتونو له امله له ځان سره داسې خبرې کولې چې يا به پرې د لېونې ګومان کېده او يا به هم لوستونکي ورته ګوته په غاښ ول، ځکه د دوی په اند انسان د غوصې او غضب په وخت کې داسې بې معنا او نادودې وايي چې اوريدل يې هم لويه حوصله او زغم غواړي، خو هغه چې اوچتې خبرې وايي، نو بې له شکه نادر انسانان دي او په ناعادي حالت کې بيا دغه اوچتې خبرې پرته له شکه د نادرو او خارق العاده انسانانو کار دی چې دا ورتيا په هر چا کې نه وي.

د ادبپوهانو په وینا په اوســني کیســه ییز ادب کې تر ډېره دغه ځانګړنه یا بېخي نه شــته او یا هم ډېره کمه ده، خو په لویدیځ کې په شپاړسمې، اولسمې او اتلسمې پېړۍ کې ډېره عامه وه چې مینه والو به هم ډېره خوښوله.

که د ډرامې په ژانر کې د نفس حدیث مخینه وپلټو، نو ســرلاري یې اکثر د الیزابت د دور لیکوال (۱۵۵۸-۱۶۰۳ ز) او د لومړي جمیز لیکوال (۱۶۰۵-۱۶۲۵ ز) وو، چې وروسته د کریستو فرمارلر په ډرامو کې د یو شخص د شخصیت ښکاره کولو تر ټولو ښه اصل و چې د هغه له فکره زېږېده، خو د شــکســپیر او د ده د پېر د ځینو لیکوالو په ډرامو کې له ځان ســره خبرې کول د یو مجرم شــخص د شخصیت د استازۍ ترځنګ د هغه د جرمونو رابرسېرونې معنا هم ښندله چې مدققینو او اورېدونکو ته یې ډېر جالب مسایل په واک کې ورکول، لکه د فرانســوي ډرامه لیکوالو له ډلې په تللو کې چې یاګو او پي یرکورني (۱۶۰۶-۱۶۸۴ ز) ډرامه لیکوالو د نفس له حدیث څخه په غنايي توګه کټنه وکړه او هغه یې د ثبوت په توګه وړاندې کړ، په داسې حال کې چې ژان راسین (۱۶۳۹-۱۶۹۹ ز) د شکسپیر په څېر د نفس له حدیث نه د ننداري د القايي اغېزې په توګه ګټنه وکړه. (۳)

په هر حال، کله چې د نولسـمې پېړۍ په وروسـتۍ لسـیزه کې ناتوریالیسـتي ډرامې رامنځته شـوې، نو د دغه ډول ډرامو یا په ډرامو کې د دغه عنصــر رامنځته کول کم شــول او خلکو ناتوریالیســتي ډرامو ته توجه زیاته کړې، خو د دې خبرې معنا دا نه ده چې ګواکې د نفس حدیث ټغر ور ټول شــو، ځکه موږ په شــلمې پېړۍ کې ګورو چې کله نا کله په ځینو ډرامو کې د نفس حدیث کارېدلی او ډرامو ته یې له دومره بدلون او مېړنېتوب کېدلو سره سره ځانګړی خوند او زړه راښکون ورکړی، لکه: د تي. اس، الیوت (په جامع کلیسا کې وژنه) اثر کې، همدا راز د شکسپیر د (مکبث) اثر په وروستۍ پرده کې خپله مکبث له خولې له ځان سره خبرې اورو چې وايي: "سبا ته، سبا ته او سبا ته، په کوچنیو ګامونو را ولاړېږي چې له یوې ورځې څخه بلې ورځې ته یې د مار په څېر د رشــتې په پای کې وســپاري، پروني او پروني چېرته وو، موږ لېونیو ته د مرګ له ګرد پرته ایا کومه بله نخښه هم پاتې ده؟

فرومیره، ای، ای زما نانځکې فرومیره، کله چې ژوند نه وي، نو ایا د ژوند خوښــی، مســتۍ او لوبې به تاته خوند درکړي، ایا ته به له شور، زوږ او غوغا نه خوند واخلې، ایا د ژوند رنګینۍ به تا رنګ کړي او ایا.... (۴)

ښايي پوښتنه پیدا شي دغه مکالمې یا حدیث نفس کومه داسې ځانګړنه لري چې باید دا مقاله ورته ځانګړې شي؟

دا سـمه او پر ځای پوښـتنه ده، خو زما په اند هره ټولنه ځانته خپلې ځانګړنې او کلتوري ارزښـتونه لري چې ډېر ځله نورو ټولنو ته یا د منلو نه وي او یا هم ورته په دې نه ارزي چې هغوی دې ورته په دومره پراخه کچه پام وکړي، د ساري په ډول زموږ په پښتني ټولنه کې د مینې داستان همداسې یوه ستونزمنه او فرهنګي رېږه ده، په دې معنا موږ چې مینه کوو، نو د معشـوقې د کورنۍ د انسانانو ترځنګ باید د هغې د کوڅې د سپیو خیال هم وساتو او آن په لوړ اواز یې له ځانه کوري یا کوچې هم نه کړو او که پر کوڅه یې روغه سته تېر شـو، د غمازانو سپیو ونه داړلو، نو بیا:

خلک مکې ته ځي حاجیان شي

زه د لیلا په کوڅه تېر شوم حاجي شومه

هومره ثواب ګټو، خو که همدغه خبره بیا د لویدېځې ټولنې چا ته وکړې، نو ښايي را پورې وخاندي او ومو پوښتي چې ولې دومره ناز، ولې دومره غمازان او ولې د صراط په یوه داسې پله مزل؟

ښایي هغوی ته زمور د ټولنې کلتوري زولنې بې باکي، نزاکت او یا هم کبر او غرور ښکاره شي، په داسې حال کې چې معشوقه تر عاشقه ډېره ګړېږي او آن په عادي اواز یې هم د بلې سر ته پورته کېږي. مار، لړم او یا نور چیچونکی حشرات یې وچیچي، خو دا به د خپل یار دیدن ته پر ځان هره نادوده او ستونزه زغمي.

زمور د ټولنې همدغو ارزښتونو ته په کتلو سره مور د پورته ټولنې مکالمو ته بې خونده مکالمې نه شو ویلای، ځکه هغه کشش او زړه راښکون چې د هغوی په ټولنه کې لري، هغه مور نه شو درک کولای، نو ځکه پر خپل ځای ښه او ارزښت لرونکې ده.

که د دې پوښتنې نسبي ځواب مو اخیستی وي، نو بله مهمه او اساسي پوښتنه را پیدا کېږي او هغه دا مور په دې مقاله کې د استاد شپون په کیسه ییز ادب کې حدیث نفس موضوع څېړو، په داسې حال کې چې د پورتنیو ځانګړنو له مخې حدیث نفس یوازې او یوازې په ډرامه کې موجود دی، ایا په نورو کیسه ییزو ژانرونو کې هم شته او که نه؟

دا څرګنده خبره ده هر داستاني څېل خپلې ځانګړنې او جوړښتونه لري، خو د ادبڅېړونکو په وینا حدیث نفس یا له ځان سره خبرې کول د داستاني ادبیاتو یو داسې عنصر دی چې په ټولو داستاني صنفونو کې د تطبیق وړ دی او په کار ده چې په ټولو کې وڅېړل شي، چې دلته له موضوع سره سم یې د استاد شپون په داستاني ادبیاتو کې پلټو.

د ادبپوهانو په وینا حدیث نفس په نورو داســتاني ژانرونو کې د (هغه وویل) او (ومې ویل) او یا یو څوک مخاطب کولو په ویلو ســـره راځي، خو داسې چې نور کرکټرونه یې ځواب نه ورکوي او دی له ځانه سره لګیا وي او په دې توګه لوستونکي ته معلومات کېږي چې دی مخاطب نه لري، یوازې د زړه براس ایستل غواړي.

خو د دې ترڅنګ له ومې ویل او ودې ویل پر کلمو ســـربېره په پښـــتو کیســـه ییز ادب کې د حدیث نفس نور ډېر ډولونه هم شـــته چې کرکټر یوازې له ځان سره لګیا وي او ډېر ځله مخاطب یې ونه، دېوال، تېږه، سیند، اسمان، مرغان او داسې نور شیان وي چې ښه بېلګه یې د پښتو ژبې لومړنۍ لنډه کیسه (کونډه نجلۍ) ده چې دغه توک په کې په ښکاره د مرغۍ په الفاظو کې راغلی چې له ژونده په تنګه شوې او سیند ته د زړه حال وایي، چې یوې برخې ته به یې ځیر شو: "ای سینه؟

ته لویه پرده یې، ســتا لوی زړه دی، بني آدم چې د چا لوی زړه صــفت کوي نو وایي: «ســتا زړه لکه دریاب دومره دی» ته د دې خپل لوی زړه روی ومنه، ماته غېږه خوره کړه؟ ته د خدای او رسول روی ومنه ما ته په خپله لویه غېږ کې ځای راکړه؟

ما په خپله لویه غېږ کې ونیسه، زما د پاره پرده شه!

د خدای په دې دومره لویه ځمکه کې زما دپاره زما د ارام ځای نشته، تا ته ننواتې راغلې یم. هسې نه چې ته هم ما زما د خوابنې او خسر په شان ما ورټې، ما مه رټه؟" (۵)

اوس ګورو چې دا خبرې د (تا وویل) او (ما وویل) په بڼه نه دي او نه د لېونیانو د خبرو په څېر دي، خو ډېره لویه فلســـفي، عاطفي او احســاســاتي معنا لري، د پښــتني فرهنګ او کلتور له مخې پرده لرې کوي، هغه ناوړه دودونه او ربړې یادوي چې له بده مرغه تر اوســه هم شته او لا هم د دغې خاورې ډېر انسانان د ځان وژنې په بېلابېلو لارو ځان له دغه دوزخه ژغوري.

اکثر لوی فیلسوفان په دې ګروهه دي چې انسان د انسان دوزخ دی او له دې نړۍ بل لوی برزخ نشته، نو که د اوسنیو حالاتو له مخې دغه فلسفي مقولې له څېړنیزو سترګیو تېرې کړو، بې له شکه هم انسان د انسان دوزخ دی او هم دا دنیا لوی برزخ او د شکنجې لوی درباب دی، ژوند په کې تصادف او مرګ په کې ویاړ دی، خو دا له کله او دا تر کله؟

استاد شپون بیا په دې نظر نه دی، هغه په خپل داستاني ادب کې دغه برزخ ته د برزخ نه، بلکې د جنت له دیده کتلي، ډېر مسایل یې د عینیت له سترګیو کتلي او دا خاوره یې په رښتینې معنا جنت نښانه معرفي کړې، خان اباد یې د تربیت، انسانیت، مینې او ښکلاګانو سیمه معرفي کړې، په نالیدلي یې پرې خلک مین کړي او هر څوک یې د ختکیو وږي او مینه دار کړي، انسان یې د بل انسان دوزخ او دښمن نه دی ګڼلی، بلکې انسان یې د بل لاربشود، لاسنیوونکی او مرستندوی زباد کړی، خو چې حالات له واکه وتي، کابو کول یې ناشونې شوي، نو د دوزخ خطاب یې هم ورته کړی، خو په نه زړه، خو ډېرې یې د ده ښکلاګانې او ښایستونه څرګند کړي چې د حدیث نفس له هغو سترګیو چې له ځان سره چرأت وهي او نور څوک یې خبرې نه اوري، ورته به ځیر شو: "ډېره شپېه دواړه غلي وو، ګلا جان د کندوز د شولو او ختکو په چرت کې و، شولې خو د ده د پلار مشغولا وه، خو د ختکو کرل د ګلاجان کار و، درست کال یې د نورو بزګرانو د ښو ختکو تخمونه ټولول، هر قسم زړي یې په بېل کدو کې ساتل، په هر یو یې د هغې کیفیت لکه، تور آسقلاني، ژېړ آسقلاني، قندک، اله پوچاق، اوږدوړي آبي، ارکاني، برګ نی... ټولو به ورپورې خندل چې هلک خپله میرزایي ایله په ختکي ازمي یې، مګر کله به چې ختکي ورسېدل، نو ده به د نورو بزګرانو سره د مسابقې مجلس جوړ کړ، هر چا به د خپل پالیز نه د خوښې ختکی راوړ، په لاره (لور) به یې ترازې ترازې کړ او د کلي مشرانو به هر یو څکه او قضاوت به یې پرې کاوه، ګلاجان تر اوسه اول لمبر نه و راغلی، خو خپل دویم مقام یې هر کال ساته. د کلي مشرانو به د قضاوت په وخت کې ویل: ګلا جانه، تا هم ښه خواري کړې ده، ختکي دې خواږه دي، کابلیان به دې تېر ایستي وو، خو د کتغني نه به نه تېرېږې، کابلیان خو بس په ختکي کې یوازې خوږوالي ته ګوري او وایي شیرین است. څکه نو کابلي تل زېړ ختکي اخلي، هغه چې نور نو لکاړ شوی وي. ګوړوبی ترې جوړوي. که ختکی پېکه وخوت شکره پرې دوړوي. په دې نه پوهېږي چې ختکي ډېر نور صیپتونه هم لري. باید بې حده خوږ نه وي. خرسنده او تازه وي او داسې وي چې تا لا چاړه ور ښکاره کړې نه وي چې دی څو ځایه ترک وچوي، او بلخن نه وي او چې ته یې خولې ته واچوې، داسې وچ وي لکه د قند ټوټې هماغلته په مدار مدار ویلې شي. بل د ختکي عطر دی، یو نری د پرخې غوندې تازه عطر او وړمه چې د اصیل ګلاب په شان لګېږي. ستا ختکی خوږوالی لري، خرسنده دی، خو عطر نه لري...." (۶)

د حدیث نفس په ډولونو کې یو ډول یې داسې دی چې لیکوال خپلې خبرې اترې د سوچ او فکر په بڼه کوي چې دی او د ده ضمیر یې اوري، خو ورسره ناست کس یا کسان یې نه اوري او دی په کې دومره فلسفي، ټولنیز او فرهنګي مسایل را سپړي چې په عادي حالت کې یې راسپړل یو څه ستونزمن وي. استاد شپون د ګلا جان له خولې ژوند برزخ نه، بلکې جنت کړی، په ډېرو یې نالیدلی کندوز او خان آباد لیدلی، د هغوی له بزګرۍ او کروندې سره یې اشنا کړي او آن پرې مینان کړي یې هم دي، د ختکیو ډولونه یې ور ښودلي، شنه او زېړ ختکي یې پرې خوړلي او د هغوی ذایقه یې ورته په طنزي مالګه کې تشریح کړې ده. کابلیان یې په دې پوه کړي چې تاسې ته د ختکیو په څېر هره مېوه بې عطرو، بې مالګې، بې خوږو او بې... درځي، اصلي خوند او جوهر یې یا کلیوال خوري او یا هم د سیمې خلک، خو همدغه کلیوال بیا تاسې داسې غولوي چې تاسې یې هېو فکر هم نه شئ کولای، خو دا هر څه د ژوند کولو په چوکاټ کې، له ژوند نه د خوند اخیستلو په چوکاټ کې او انسان د انسان د دوزخ په معنا نه، بلکې انسان د انسان د ژوند په معنا کې وړاندې کوي.

استاد شپون په خپلو داستانونو کې دغه ډول ډېرې تجربې لري چې د حدیث نفس یوې بلې تجربې ته چې هغه له ځان سره خبرې کول دي، هم ځیر شو چې د ځان بسیا کېدنې، نه د بل په اوږو یا محنت بار ژوند دی: "د ګلا جان د اول نه د سوشال (د حکومت مرسته) او

د خوراکو د کوپون سره ورانه وه، خو رغېدن يې ترې نه و، د ځان سره يې ويل، که خپل پلار ته ښېرې نه کوم د ناکامه ورځې به يې کوم، د بېکمال سـرې برخه خواره ده، خو بيا به خجالته شـو او ويل به يې هېڅ پلار خپل زوی د امريکا ژوند ته نه دی روزلی، که په وطن کې وای، لوی دهقان به رانه جوړ و، مسته قولبه به راته ولاړه وه، د عيش ژوند به و او د پلار به هم اوږې را سپکې وې، پلار مې څه کرم دی، د اوو پشتو همداسې لوی شوي يو، خو بيا د وطن حالات ور په زړه شول، خو هلته به مې نو څه کړي وو، يا به عسکری ته تلم او يا به د مجاهدينو سره ټوپک په غاړه لټيره گرځېدم." (۷)

د استاد شپون په داستانونو کې لوی کمال دا دی چې لوستونکی د بې لاری خوا ته نه بيايي. په دې معنا موږ په خپلو ډېرو داستانونو کې لولو چې يو ساده کليوال سړی وي، ښـار ته راشي، په مزو چړچو راشي، ښـاري ژوند غوره کړي، ځان ورته متمدن ښکاره شي، د ښاريانو اکتونه شروع کړي او دومره افراط وکړي چې آن ښاريان يې هم نه کوي، هم د ښاريانو نوم بد کړي او هم په ټوله معنا په ښاري فرهنگ نه پوهېږي، خو که همدغه کليوال سـړي ته چې ډېر کم وخت به يې کېږي له کلي راغلی وي او ښـاري شـوی دی، له کلي مېلمه راشـي، نو پرې شـرمېږي، خپلو ملگرو او همکارانو ته يې په سـمه معنا نه ور معرفي کوي هم، آن د کورنۍ غړی ورته، دهقان، کاريگر، کليوال او يا خپل مزدور معرفي کړي، چې بېلگې يې په لسـگونو دي، د سـاري په ډول د نصـير احمد احمدي «بوډا او د لېوانو پلونه» داستان کې هم گورو چې اتل خپل پلار له کلي نه ښـار ته د خپل يو کار لپاره را غواړي، پلار يې چې ښـار ته راشي، نو زوی يې ورته د خپلې مېنې او د نجلۍ کورنۍ ته د مرکې د ورتللو خبره کوي، خو په ورته وخت کې هڅه کوي چې خپل پلار له کليوالي موډه ښاري موډ ته را واړوي او ښاري يې کړي چې همداسې وکړي هم، خو چې کله يې خلکو ته د ور پېژندنې موقع راشي، نو چا ته يې کليوال، چا ته يې خپل دهقان او چا ته يې هم په نورو نومونو معرفي کوي.

د اسـتاد په شـپون په داسـتانونو کې بيا داسې کيسـه نه ده، دی په هر ځای او هر ډول مدنيت کې خپل کليوال له غرور، حيثيت او افغانيت نه مالامال معرفي کوي، البته د گټيالي په داسـتان کې د گلاجان او انور کرکټرونه په متفاوتو شـکلونو وړاندې کوي، گلاجان په امريکې کې هم د خپل افغانيت، پښـتونولۍ، غرور او مېړانې سـاتندوی معرفي کوي. امريکا ته راتگ ورته وياړ نه، بلکې مجبوري ښـکاري، خو په امريکې غوندې ځای کې هم د حکومت ځيري ته کښېناستل ورته عيب او بې کفايتي ښکاري، نو ځکه په نالوستي ځان هم د کار او زيار په لټه کې وي، خو انور خان بيا په ټوله معنا د گلاجان مخالف کرکټر دی او دا ځکه چې دی له هماغه ځايه خويه، ښـاري او بازاري خويونه لري چې په اصطلاح يو ډول چالاک او... دی.

په هر حال، د حديث نفس په يوه بله بېلگه کې گورو چې اسـتاد شـپون د ژوند يو بل پړاو چې کرکټر په کې په تصـورونو کې پټ دی داسې را سپړي: "په تصـور کې مې هغه لېونۍ ليده چې همزولو ورته زما د سـفر ويلې وي او هغې نور نو نه پوهېدم چې هغې به څه عکس العمل ښـودلی وي، تندی به يې تريو کړی وي، يا به يې بابيزه تېره کړې وي، حتی په دې هم نه پوهېدم چې هغه به زما مينه جدي گڼې او که به لا هم د پلار په سترگه راته گوري.

د برمانو په شـان مې چيغې کړې «دا تورې سـترگې زما يادېږي، له حاله زما کله خبرېږي، دا تورې...» ايله مې پام شـو چې د مازيگري لمر ميرات مړی غرغرې، تل په ما همدا د يوازيتوب څپې راولي..." (۸)

د شپون په کيسو کې يو بل کمال دا دی چې خپلې معشوقې ته له حده زيات نه خوربېږي او نه يې هم په پښو کې ځان حلالوي، بلکې له نازه يې ځوانيمرگه، بدرنگه، پړسـونگې، لېونۍ او دې ته ورته بولي، د مينتوب لپاره هم حدود او چوکاټونه لري، خو په هېڅ صـورت خپل فرهنگي او سيمه ييز دودونه نه هېروي، خو جالب ټکی په کې دا دی چې ډېرې جالبې لنډۍ، شـعرونه او پښـتو مقولې داسې گردانوي چې

کله ناکله یې له انحرافه انسان خوند هم واخلي، خو دی هغه اصالت ساتي، آن د امریکې په څېر سیمه کې هم خپلې معشوقې ته خپلې لنډې، مقولې، اصطلاحات او متلونه وایي چې ناولونه یې ښایسته ښیلګې لري.

د دغو مسایلو ترڅنګ استاد شپون چې د داستان په ټولنیزو موضوعاتو کې څومره ډاډه او بې باکه دی، همدومره په جنسي مسایلو کې هم بې باکه او با جرأته دی، آن کلیوالي جنسي مسایل هم دومره بې باکه او په جرأت سره را اخلي چې انسان یې په اوسني د ټېکنالوژۍ په عصر کې هم جرأت نه شي کولای، د ساري په ډول د ده یوه لنډه کیسه ده چې «بختوره، غولانځوره» نومېږي او په دې کې د بختورې د جنسي بې باکۍ په اړه په ښکاره وایي چې کلیوالو به ویل چې په پوست پاکه نه ده.

په پوست پاکه نه ده هغه اصطلاح ده چې ډېر ځله یې مور په عامه کلیواله ژبه وایو، خو په معیاري ژبه کې بیا د بد اخلاقۍ، جنسي فقر، بې لارې او... نومونې ورته کارو، خو استاد له کلیوالي ادب نه په ګټې دغه اصطلاح کارولې ده چې په دغې کیسې کې همدغه مسئله د حدیث نفس عنصر په څولۍ کې په ډېر هنر سره کارېدلې: "بختوره لا هم په کوډله کې وه او ما چې هر څومره ممبولا او تمبولا، باړه ماما او آخون موسی صاحب ته زارۍ وکړې بختوره غولانځوره نه راوته او زه هم د مالونو په بیړه کې وم، تلوسې دومره ورخطا او بې چاره کړم چې آخر کاته مې په ښکنځلو او حتی ښېرا مې پیښه وکړه، راووځه. د سپۍ لورې، راووځه چې ګوزڼ وهلی پلار دې را روان دی. بېشرمه سترګې دې وخورې... مګر دوی لا په کوډله کې وو." (۹)

استاد د نورو کمالونو ترڅنګ په زیارتونو، اخوندانو، نومونو، اولیاوو او مشرانو د خلکو عقایدو او باورونو ته هم نغوته کوي او دا په ډاګه کوي چې ډېر خلک د ښو کارونو ترسراوی د همدوی له برکته او د بدو کارونو د مخنیوي چاره په همدوی کې وینې، په داسې حال کې چې هر څه د الله په لاس کې دي نه د زیارتونو، خو دا خبره په داسې هنر کوي چې نه مذهبي کړۍ پرې را وتورېږي او نه هم د ولس غبرګون یې پر وړاندې را وپارېږي، چې ښه مثال یې همدا کیسه ده چې ماشوم له خپلو ټولو عقایدو او درناوېو سره سره چې زیارتونو او ځینو درنو ستېو ته یې لرې بیا هم د ده مرستې ته نه را رسېږي او بختوره د مجازي او څو شېبه یې خوند له امله د عمرې بدبختۍ او در په درۍ خوا ته بیایي.

## پایله

که خبره را ټوله کړم، حدیث نفس د داستاني ادب یو داسې توکی یا عنصر دی چې له ډېر پخوا راهیسې زموږ په پښتو داستاني ادبیاتو کې موجود و، خو دا چې د داستاني ادب داخلي جوړښت دغې برخې ته تر اوسه پورې ځېرنه نه وه شوې او یا هم د یوې مستقلې موضوع په توګه پرې چا کار نه و کړی، نو هغه یوه جلا خبره ده، خو زموږ په اکثرو داستاني ادبیاتو کې دا توکی شته او کارېږي.

البته کله یې چې د جوړښت او ډولونو په اړه خبرې کوو، نو دا موضوع بیا یو څه پراخېږي، په دې معنا حدیث نفس له ادبي اړخه واخله تر فلسفي، رواني او سیاسي اړخ پورې څو ډولونه لري چې دلته یې یوازې په ادبي اړخ خبرې وشوې او په هغې کې هم نبغ په نبغه له ځان سره خبرو په اړه او یا هم د تصور په اړه د حدیث نفس په اړه لږو ډېرې یادونې وشوې چې د ټولو برخو یادونې او سپړنې اړتیا یې شته او پرته له شکه دا ټول اړخونه تر ډېره د استاد شپون په داستاني آثارو کې موندل کېدلای شي، ځکه استاد شپون هغه څوک دی چې د ولس له منځه را پیدا شوی، د ولس په منځ کې روزل شوی، د ولس له منځه یې د ولس خبرې په هنري چوکاټونو کې منعکسې کړې چې تر ډېره نوې، جالبې او په زړه پورې هم دي، خو دا چې د دې موضوع لمن تنګه وه، نو د استاد شپون په هنر کې تر دې زیات د دې مقالې له حوصلې وتلې خبره وه.

په هر حال، د استاد شپون لوی کمال دا دی چې ژبه یې هنري، خو په ورته وخت کې ساده او کلیوالي ده، هرې موضوع ته یې د نورو لیکوالو په څېر د ټاکل شویو چوکاټونو له دیده نه دي کتلي، بلکې موضوع یې په هنري چوکاټونو کې د ولس په ژبه، د ولس په غوښتنه او

د ولس د ارزښت په توګه څېړلې چې ولس هم په اسانۍ هم هضم کړې او هم یې د هغې ستاینه کړې. که موږ ووایو چې استاد شپون په داستاني ادب کې د داستان پاچا یا د هنري نثر پاچا دی، نو ډېره مبالغه به نه وي، ځکه دا هغه نوم دی چې د ډېرو ښاغلو او څېړونکو له خوا استاد ته ورکړل شوی او هغه یې په همدغه نوم ستایلی او دا ځکه چې استاد یې وړتیا لري، حق یې دی او باید چې په همدې نامه یاد شي، نو په ټوله کې حدیث نفس یا له ځان سره خبرې د داستاني ادب هغه توکی دی چې زموږ په اکثرو داستاني ادبیاتو کې شته، خو دا چې د استاد شپون په آثارو کې خپل ځانګړی هنري کیف او زړه راښکون لري، نو په اړه یې ما په همدې لیکنه کې له سینده کوزه را ډکه کړه، هیله ده چې دا موضوع په ګانده کې نوره هم پراخه او په هر اړخیزه توګه وڅېړل شي.

## مأخذونه


۱. محمد، شریفی. فرهنګ ادبیات فارسی، فرهنګ نشر نو، انتشارات معین: تهران، ۱۳۸۷ لمریز کال، ۵۲۵ مخ.

۲. فرهنګنامه ادبی فارسی (دانشنامه ادب فارسی)، به سرپرستی حسن انوشه، دویم ټوک، دویم چاپ، وزارت فرهنګ و ارشاد اسلامی، سازمان چاپ و انتشارات: تهران، ۱۳۸۱ کال،۵۲۴ مخ.

۳. فرهنګنامه ادبی فارسی، ۵۲۴ مخ.

۴. همدغه اثر، ۵۲۴ مخ.

۵. سیدي، سیدنظیم. پښتو لنډه کیسه او ادبي ټوټه، صمیم ادبي ټولنه: کابل، ۱۳۸۶ لمریز کال، ۵۷- ۵۸ مخونه.

۶. شپون، سعدالدین، ګټیالی، په شګو کې سره زر (د استاد شپون داستاني کلیات)، د لعل پاچا ازمون په زیار، د بلخ او کندوز پوهنتونونو له خوا: کابل، د دانش خپرندویې ټولنې او ختیځ خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګې، ۱۳۹۸ لمریز کال، ۲۷۷- ۲۷۸ مخونه.

۷. شپون، سعدالدین، ګټیالی، ۲۹۵ مخ.

۸. شپون، سعدالدین، د سمڅې یاران، په شګو کې سره زر (د استاد شپون داستاني کلیات، د لعل پاچا ازمون په زیار، د بلخ او کندوز پوهنتونونو له خوا: کابل، د دانش خپرندویې ټولنې او ختیځ خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګې، ۱۳۹۸ لمریز کال، ۴۷۸ مخ.

۹. شپون، سعدالدین، د بنګي غاړه، بختوره غولانځوره ( د لنډو کیسو ټولګه)، په شګو کې سره زر، ۱۳۷ مخ.